
استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

روانشاد پوهاند عبدالحی حبیبی شنبه ۱۷ فبروری ۲۰۲٤

# د احمد شاه بابا دیوان




**شپاړ لسمه برخه**

**احمد شاه بابا د عشق پر دغه مهم مقام داسي راځي:**

زه "احمد" بادشاه په داله خپله ځانه په ځان خوښ یم

چه مین تر خپله ځانه زه یم ستا د مخ پر گل یم

پر ده خپل زړه له دغه جهته گران دي، چه زړه د مینې کور دي، او تر ځان پر مین شیدا دي:

زه "احمد" پدا له خپله زړگی خوښ یم

چه تر ځان مین پر تا باندي اول وو

احمد شاه بابا که څه هم بادشاه دي، د شوکت او سطوت خاوند دي، مگر د عشق په دنیا کي لکه چه وویل شوه، ډیر عاجز دي، دی پخپل کلام کي تل خپله عاجزی ښکاره کوي، او محبوب ته د عجز

له خوا حسن طلب کوي، حسن طلب د شاعرۍ کمال دي، وګوري په دې لاندی بیتو کي، دی یو وار خپله د شاهۍ لوړتیا او اقتدار بیانوي، بیا نو خپل عجز د عشق په دربار کي څنګه تصویر کوي؟

وایی محبوبی! زه خو د یو څو ورځو میلمه او آخر تلونکي یم، نو ولی زما سره مینه او مرحمت نه کوې؟

که بادشاه د درست جهان یم

غلام ستا ماه تابان یم

په صورت کي سلامت یم

یو څو ورځی مي رضا کړه

که هر څو په بهار درومم

له خوږ دله خون افشان یم

جانه څو ورځی مهمان یم

آخر پاڼي د خزان یم

بې له جانانه د مین په سترګو کي ټوله دنیا تیاره ده، ګل داسي ورته ایسي لکه اغزی، او پسرلی لکه مني، مثلاً:

بی تو ام گل بدیده چون خار است

مژه در چشم من چو سوفار است

پسرلی سي، ګلان وغوړیږي، هری خوا ته د خندا ډکي د غوټیو خولې مسیږي، مګر د مین پسرلی خو د جانان راتګ دي و بس.

بهار این چمن بی مقدمت ما را چه کار آید

تو گر آئی چمن آید، بهشت آید، بهار آید

احمد شاه بابا په دغه موقع کي وایی:

بې له یاره مي بهار د سترګو اور دي

که هر څو د غمجن غم ورک مرغزار کا

د بیلتون په دنیا کې مین هر کله غواړی، چه خپل دوست ته احوال واستوي، یا قاصد ور ولیږی!

مگر د عشق او مینې دنیا یوه داسې له نزاکته ډکه او له سوزه مرکبه دنیا ده، چه د قاصد وظائف هیڅوک نسی پکښې ادا کولای، نو مین بیچاره هر کله د قاصد په تلاښ کې وي، چه خپل د زړه درد او سوی، د محبوب حضور ته وړاندی کړي، مگر څوک د دغه سوی او بیلتون په دنیا کې دغه وظائف ایفا کولای سي؟ یو ادیب وایی:

اشک را قاصد کویش کنم! ای ناله بمان

زانکه صد بار برفتی اثری نیست ترا

بل عاشق دنیا ټوله پخپلو اوښکو طوفانی وینې، نو قاصد داسې پلټي:

بعد ازین نامهٔ خود بر پر ماهی بندم

که ره عشق تو پر آب شد از دیدهٔ من

د صائب له ډېره عشقه و قاصد ته احتیاج نه پیښېږي:

هر سطر کار شهپر جبریل میکند

این نامه را ببال کبوتر چه حاجت است

جهانګیر د هندوستان پاچا، په دې ډول مکتوب معشوق ته استوی:

ما نامه به برگ گل نوشتیم

شاید که صبا باو رساند

اختر هروی، پروانه د یار حضور ته قاسد کوي:

عاقبت مکتوب ما را سوی او پروانه برد

طاقت سوز دلم بال و پر دیگر نداشت

بل ادیب څه ښه وایی:

شب که در دل رقم نامهٔ دلبر میشد

دیده هر قطره که میریخت کبوتر میشد

په دې ډول شاعرانو په دغه زمينه کې مضمون آفرينی کړي دي، يو پښتون پونده چه د پسرلی په شپه، و سپينی سپوږمی ته د جګو غرو په لمنو کې د بيلتون په درد او سوی کې ګرزي، نو بل قاصد د محبوبا و کږدۍ ته نه مومي، څو چه سپوږمی ته خطاب کوي:

ارمان ارمان سپينی سپوږميه

سلام مې ورووړه د همزولو تر کږديه

احمد شاه بابا د عشق او مينې په دنيا کې د شاهانه اقتداره سره هم يو داسې صحيح قاصد نه مومي، چه د محبوبا حضور ته ئې وليږي او نه پخپله ور رسيږي، نو خپل زړه له ټتره باسي، په بيدلانه ډول ئې د خپله پيغامه سره ورليږي او وايي:

که مې لاس و پښې و تا ته نه رسيږی

دغه خپل زړه به مرغه کړم ستا پر لوري

پای

salamwatanam@gmail.com